شمالي وزیرستان: د امنیتي ځواکونو لویه بریا
د سیکیورتي اهلکارو په شهادت کې ککړ ترهګر نیول شوی

امنیتي ځواکونو د شمالي وزیرستان په ګهاټ غنډي سیمه کې د استخباراتي معلوماتو پر اساس عملیات کړي دي۔ د مې په څلورمه د زیارت په ورځ د شپږ امنیتي اهلکارو په شهادت کې ککړ شپږ ترهګر ونیول شول۔ د وسلې او مخابراتي تجهیزاتو تري هم برآمد شوي دي۔

دتفصیلاتو له مخې امنیتي ځواکونو دترهګرو دموجودیت دمعلوماتو په ترلاسه کولو سره په ګهاټ غنډي سیمه کې دترهګرو د کمین ځای محاصره کړ۔ ترهګرو د ښځو جامې اغوستې وې۔ د یوه برقعه اغوستونکي ترهګر په ګډون شپږو ترهګرو د تیښتې هڅه وکړه۔ خو امنیتي ځواکونو هغه ونیول.ترهګرو د زیارت په پېښه کې په خپل لاس لرلو اعتراف کړی دی. د پلټنو په ترڅ کې نور انکشافات تمه کیږي۔

امنیتي اداری پر عزمه دي چې د خپلو شهیدانو وینه به بې ځایه نه پریږدي او په هیڅ صورت به دا خوارج د اخري انجام ته رسوي او تلپاتې سوله به ممکنه کړي۔